(c) ketabton.com: The Digital Library



ګودرکې هره ورځ اختر وې
منګې په سر ورله راځي جو نۍ سيلونه
****
ګودر د غدونو څه کم نه دی
پکې پښېږی شنۍ پاخې کټه بازونه
****
ګودر دې عمر له اباد وې
مازد يګرې پکې وی اخترونه
****
ګودربادشا منګی وزير دی
وزير هميشه د خپل يار سلام کو ينه
****
ګودره ټول درته لو ګی شم
په سور سالو کې ليلا ستا خواله را ځينه
****
ګودرکې هره ورځ اختر وې
رنګ رنګ پکې وی د خو بانو محلسونه
****
ګودرته راغلی برابره
يا خو لګی راکړه يا منګی در ماتو مه
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کبرجن جانان د لاسه
د کشمالو منجیله وکړه
د کوه قاف غر ته ختل دي
د ګلاب مینځ کې ګل وچیږي
د ګودر غاړه ورته نیسه
د لرې مرم د نږدې سوزم
د لنډۍ ونې نه دې ځار شم
د ماز د یګر ګودره وران شی
د مازد یګر ګودر ته راشه
د مازد یګر ګودر له راشه
د مازد یګر ګودر له مه ځه
د مرګي هسې نوم بدنام دی
د مړوند خوب چې چا لیدلی
د مساپر یار زنکدن دی
د مسافرو ډلې راغلې
د ملکنډ د سر توتي وای
د ملنګانو سره مل وای
د ملنګی کچکوله مات شې
د منکو ټو کتار یې جوړ کړو
د منګوټو کتار یې جوړ کړو
د ناز کتو دې اثري کړم
د ناستې ځای دې راته ښایه
د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
د نیمې شپې سندرې خوند کا
د وطن تیګې مې خوراک وای
د وفا تمه ترېنه مکړه
د یار یوه شوه زما بله
د یدن دی سین کړه را لا هو کړه
دا اوسني زلمي د څه دي

د زړه دپاسه مې پولۍ ولاړې دینه
چې خو شبوی دی د منګی د بیخه ځینه
څوک چې یاري د بې وفا سره کوینه
چېرته عاشق سرې به لاس وروړی وینه
د نجلۍ خوی د مرغاوۍ دی رابه شینه
افغانستانه زغم د دواړو نه لرمه
لکه سیسۍ چې په کمر ولاړه وینه
په خندا درشم په ژړا درنه راځمه
ما په منګی کې پراټي راوړی د ینه
زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه
پیغلی ابو پر ځای و ینې دکو ینه
زه د جانان مینې پخوا وژلی یمه
د بالښت خوب ورته مزه نه ورکوینه
مخ یې وطن ته کړئ چې سا یې وخیږینه
زما د یار ډله وروستی ده رابه شینه
په اور ستي وای تهمتی نه وای مینه
ګډ په ځنګل وای چې مې نه لیدای غمونه
چې در په  در دې ګرځوم تش دې راوړمه
لنډۍ بازار یې په ګودر ولګاونه
لنډی بازار یې په ګودر ولګاونه
د کړس خندا دې لېونی د دنیا کړمه
چې زه په هغه ځای کې وکرم ګلونه
زه په توده برېستن کې نېغه کیناستمه
څوک به مین وي څوک به ورک له ملکه وینه
نه وای خوراک مې په پردي وطن ګلونه
بې وفایي خو د هر ښکلي عادت وینه
نصیبه داسې سوال مې کله کړې ونه
زه په غاړه دګودر ولاړه یمه
د جنکو پسې د پیازو غوټه وړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې په چل غروه یاره
سترګې دیدن وکړي مرې شي
سترګې دې تورې کړه راووځه
سترګې دې ولې واړولې
سترګې مې اوباسئ لایق یم
سترګې نرۍ تورې مزه کا
سترګې هوسۍ صراحي غاړه
سر په تېشه وهل اسان دي
سر لاندې غټه تیګه کېده
سلام زما په ځان منظور کړه
سورت یاسین راباندې وایه
سورت یاسین راباندې وایه
شال یې په سر اوړی په غاړه
شاه دګودر له لوری راغله
شاه دګودره روانیږه
شاه دګودره روانیږه
شو ماز د یګر ګودر له لاړه
شو ماز د یګر ګودر له لاړه
شو مازد یګر ځان یې سنبال کړو
شونډې به یې ولې پستې نه وې
شونډې به یې ولې پستې نه وې
شونډې شربت کړه ماته یې راکړه
ښه ده چې ته له خیره راغلې
ښه ده چې ستا له لورې وشوه
ښه ده چې سترګې دې وړې دي
ښه ده چې شونډې مې اور نه اخلې
ښه دی چې ستا د یارۍ خلاص شوم

اوړكي بازان دي غټې سترګې خوښوینه
شونډو د غم نه وچ پتري نیولي وینه
د تورو سترګو سوداګر راغلي دینه
د سترګو جنګ د ښو لاندې خوند کوینه
چې بې وفا ته غرېدې مین یې کړمه
دا ګلې ودې سترګې دمې تورو ینه
بیا دګودر په لاره مسته یاره له ځمه
فرهاده ګران دي د یارۍ سوي داغونه
پردی وطن دی پکې نشته بالښتونه
د مسافرو سلام کله کله وینه
په ما خولې د زنکدن راغلي دینه
چې مي سختۍ د زنکدن اسانې شه
ګودر ته لاړه عاشقان ر نځورو ینه
لکه پا چا ورته پیري ولاړی دینه
زما نر یږی د زړګی پا خه برجونه
لکه د ښې مر غۍ وړه شنه یې خالونه
په اردلۍ کې سیهلۍ ورسره ځینه
لکه هو سۍ په لاره اخلۍ قد مو نه
خپلو همزلو سره کوز ګودر له ځینه
چې د پېزوان سورۍ پرې اوړی ژمی وینه
مور یې د زېړې غوا غوړي ورکړې دینه
زه د هجران په سفر ځم تری به شمه
کنه ما کند کچکول تره درپسې تلمه
چې ملامته درته زه نه شوم مینه
که چېرې غټې وای خوړلی به دي ومه
د زړه د سره مې لمبې خولې له راځینه
د شرم باز به مې په ولو ګرځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



گودر ته ځم راپسی راشه
زه به منگی په لپو ورو،ورو ډکومه

گودر ته ځم راپسی راشه
وخت مازد یگردی چې پری وکړو د یدنونه

گودر ته ځی په مخه راغلې
گیبی گیبی پرتو گ دی لاره نه راکو ینه

گودر ته دواړه خو یندي راغلی
یوه یې ویشتل کا بله یې غشي ټو لو ینه

گودر د غدونو څه کم نه دی
پکې پښیړی شنی پاخی کټه بازونه

گودر دی عمر له اباد وې
مازد یگري پکې وی اخترونه

گودر دی عمر له ودان وې
په دی بهانه د حانان وکړم د یدنونه

گودر شو گرم مازد یگر دی
لیلا همزولو سره قینج مکیز کو ینه

گودر کې سری لمبی شوی پورته
د چا د زړه په دنیا اور ولگید نه

گودر له ځم چې اوبه راوړم
په سرو منگلو به یې جانان له ورکومه

گودر له ځم چې مانگی مات کړم
سپو ږمی زړه شوه اوس تیاره کې یاره ځمه

گودر له ځمه خو شحا لیږم
چې مې جانان کر لې لاره کې سره گلونه

گودر له ځمه را پسی را شه
ما په منگې کې پراتې را وړی د ینه

گودر له ځی او ښنو ته گوري
پاچاهی لارکې د خیال مه ږده قد مونه

گودر له غبرگې خو یندی راغلی
گو له ماری د خمارو ستر گو کو ینه

گودرته ځم راپسی راشه
زه به منگی په لپو ورو،ورو ډکومه

گودرته ځی ناوخته کیږی
د خیال کاته کوی په اور یې ستی کړ مه

گودرته راغلی برابره
یا خو لگی راکړه یا منگی در ماتو مه

گودرکې هره ورځ اختر وې
رنگ رنگ پکې وی د خو بانو محلسونه

گودرکې هره ورځ اختر وې
منگي په سر ورله راځی جو نی سیلونه

گودره بخت دی غلبه دی
د پیغلو جنو سیل کوی حیران دی کړمه

گودره ټول درته لو گی شم
په سور سالو کې لیلا ستا خواله را ځینه

گور له ځم را پسی راشه
منگي مې دوه دي نری ملا مې ما تو ینه

لاړم د خپل وطنه لاړم
بې وفا یار راباندې ډېر کبر کوونه

لکه کابل دافغان حق دی
داسې مې حق دي دجانان زلفوسرونه

لمونځ چې قضا شي بیا ادا شي
نه ادا کیږي قضا شوي دیدنونه

له مانه ولې گیله من یې
کم عقله یاره د پردو اختیار کې یمه

